ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصـــــادي او ټـولنيـــزو مسايلـــو
په بـــرخـــه کـــې د رياست الوزراء
اقتصــادي معاونيــت خــبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۱۹

نېټه: شنبه، د ربيع الاول ۱۵ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال








# سرليکنه

د ملي تدارکاتو کمېسيون له لوري د شاوخوا شپږ ميلیارده افغانیو په ارزښت ۲۵ بېلابېلي پروژې منظورې شوې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسيون په نوبتي غونډه کې د بېلا بېلو امارتي ارګانونو اړوند د ساختماني پروژو په ګډون تدارکاتي پروژې منظورې شوې. منظور شوې پروژې د رياست الوزراء د ساتنې لوی رياست، د ملي دفاع، لوړو زده کړو، ټولګټو او د کليو بيارغونې او پراختيا وزارتونو، افغان ملي بانک او کابل ښاروالۍ اړوند دي چې ټوليز ارزښت يې شاوخوا شپږ مېلياردو افغانيو ته رسېږي.

دا يو حقيقت دی، کوم حکومتونه چې ژمن او متعهد وي، د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته وفادار وي، هغه بيا کولای شي هېواد د پرمختګ په لور بوځي. زحمت وباسي، خولې وبهوي او په پايله کې راتلونکو نسلونو ته د سوکاله، ارامه او پرمختللي ژوند زمينه برابره کړي. وطن د نورو له احتياج څخه خلاص او د هغو هېوادونو په ليکه کې يې ودروي چې نور يې مرستو ته لاس وراوږد کړي او نور هېوادونه د ځان پر وړاندې احتياج کړي. اسلامي امارت د همدې کړنلارې په غوره کولو سره تر دې مهاله په خپلو کړنو کې مثبتې لاسته راوړنې درلودلې دي. ددې ادعا ښه ثبوت په دې وروستيو کې افغانۍ په تېرو درېيو مياشتو کې د نړۍ د غوره کرنسۍ مقام خپلول دي. نو پس ويلا شو چې د اسلامي امارت هڅه داده چې په هره برخه کې د بېلا بېلو پروژو په عملي کېدو سره دې موخې ته ورسېږي. دې موخې ته د رسېدو له پاره په چارو کې چټکتيا او روڼتيا ته اړتيا وه، نو له همدې امله يې د اميرالمومنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخوندزاده حفظه الله له فرمان سره سم د ملي تدارکاتو کمېسيون د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ رامنځته کړ. د ياد کمېسيون په جوړو شويو غونډو کې تر دې مهاله د مېلياردونو افغانيو په ارزښت پروژې منظورې شوې چې د ځينو يې چارې بشپړې او پر ځينو يې لا هم کار روان دی. ددې کمېسيون د ميزان مياشتې د دوهمې نيټې په غونډه کې د شپږ مېلياردو افغانيو په ارزښت بېلا بېلې ۲۵ پروژې منظورې شوې. په دې پروژو کې د تدارکاتي پروژو ترڅنګ د ساختماني چارو پروژې هم شاملې وې چې د بېلګې په ډول يې د کابل ښار د دهمزنګ په سيمه کې د افغان ملي بانک اړوند د افغان ملي ماڼۍ د دوهمې برخې پروژه ده چې شاوخوا يو مېليارد افغانۍ ورته ځانګړې شوې دي. دغه راز د ځينو ولايتونو د سړکونو د رغونې پروژې هم پکې شته دي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هېواد بيارغونې ته ژمن دی او هڅه کوي چې هېواد په هره برخه کې پر خپلو پښو ودروي او اوسنيو ترسره شويو فعاليتونو ته که ځير شو؛ نو راته جوته به شي چې اسلامي امارت خپلې وينا ته د عمل جامه وراغوستې ده.

# جلسۀ نوبتی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در قصر مرمرین برگزار گردید



جلسۀ نوبتی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در قصر مرمرین برگزار گردید. در نشست بعد از غور و بررسی همه جانبه طرزالعمل حفاظت از معادن که از سوی وزارت معادن و پترولیم تهیه گردیده بود، تائید شد و به وزارت معادن وظیفه سپرده شد تا به منظور حل نکات مورد بحث با ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه نشست داشته باشد. ریاست عمومی محافظت ملی جهت حفاظت از معادن کشور، قطعه اختصاص داده شده را در سراسر کشور تقویت و منظم سازد، تا از استخراج غیر قانونی و خود سر جلوگیری شود.

در جلسۀ کمیسیون اقتصادی تصمیم گرفته شد تا به منظور رساندن برق به ولایت ارزگان، گزارش ترتیب شده از طرف وزارت آب و انرژی و شرکت برشنا را به دفتر مقام امارت اسلامی بفرستد و مطابق به هدایت آن مقام اقدام صورت گیرد.

در نشست کمیسیون اقتصادی به کمیتۀ تشکیل شده از وزارت شهرسازی و مسکن، شرکت دولتی ارزاق و شاروالی کابل وظیفه داده شد، تا طرحی را مطابق اصول شهری برای مارکیت میوه و سبزی در ساحه کمپنی مربوط ناحیه پنجم کابل تهیه و جهت منظوری به جلسۀ آیندۀ کمیسیون اقتصادی پیشکش نماید.

در پایان نشست در مورد استفاده از سمنت غوری و جبل السراج به کمیته متشکله به شمول نماینده معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء، وزارت های فواید عامه، انکشاف دهات، شهرسازی و مسکن و همچنان شرکت انکشاف ملی و اداره ملی ستندرد وظیفه سپرده شد تا تیست های کیفیت سمنت غوری و جبل السراج را بار دیگر انجام دهد و گزارش خود را در ظرف پنج هفته جهت تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی ارسال دارد.



# له صنعت او صنعتکارانو څخه د ملاتړ په موخه غونډه جوړه شوه

د رياستالوزراء اقتصادي معاونيت د مقام په مشرۍ د ماليې، کورنيو چارو، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو، د استخباراتو لوی رياست او خصوصي سکتور په ګړيتوب له صنعت او صنعتکارانو څخه د ملاتړ په موخه ځانګړې غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه.

په دغه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان د صنعت او معدن خونه به کورني توليدات د رسمي ليک له لارې د تعرفې کمېټې ته ور معرفي کوي. د استخباراتو لوی رياست، د خورو او درملو او نورم او ستېنډرډ ادارو په ګړيتوب به د تعرفې کمېټه د معرفي شويو کورنيو توليداتو د کيفيت، کميت او قيمت له تثبيت وروسته د ځان بسياينې په اندازه پر دغو وارداتي اموالو تعرفه لوړوي او راپور به يې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته ورکوي.

همدارنګه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان اسلامي امارت د کابينې ۱۴۴۴/٦/۹ نېټې د ۱۹مې ګڼې مصوبې مطابق ټولې امارتي ادارې دې د کورنيو توليداتو او محصولاتو د ملاتړ په موخه په خپلو خريداريو او تدارکاتي پروسو کې کورنيو توليداتو او محصولاتو ته لومړيتوب ورکړي، که څه هم کيفيت يې د بهرنيو توليداتو او محصولاتو په پرتله له لس تر پنځلس سلنې ټيټ وي. په غونډه کې امارتي اداري مکلفې وبلل شوې څو د ټولو کورنيو توليداتو او محصولاتو لېستونه له ځان سره ولري او د دې لېستونو مطابق دې تدارکاتو او خريداريو په وخت کې کوټېشن پاڼې اخلي.

په ياده غونډه کې همدا راز پرېکړه وشوه چې صنعتکارانو او پانګوالو امنيتي ستونزو ته د رسېدنې او د مؤثرې همغږۍ د رامنځته کولو په موخه دې د کورنيو چارو، ماليې، صنعت او سوداګرۍ وزارتونه، د استخباراتو لوی رياست او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې او همدا راز د صنعت او معدن خونې خپل باصلاحيته استازي د رياستالوزراء اقتصادي معاونيت ته په درېيو ورځو کې ور معرفي کړي.

دغه راز د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د سوداګريزو نومونو، مارکو او برانډونو او په هغو کې د جعل او تزوير د مخنيوي په اړه دې اسناد او وړانديزونه د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته د نهايي تصميم نيونې په موخه راوليږي.

د غونډې په پای کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ د تعرفې کمېټې ته دنده وسپارل شوه چې د استخباراتو لوی رياست په ګړيتوب دې د سوداګرۍ او پانګونې او صنعت او معدن خونو ترمنځ د انوايسونو د اجراء په تړاو موجوده ستونزه په هر اړخيز ډول وڅيړي او له خپلو نظرونو سره مل يې دې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته راوليږي.



# د ملي تداركاتو كمېسيون له لوري ۲۵ بيلابيلې پروژې منظورې شوې





د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغنـي بـرادر اخونـد په مـشرۍ د ملي تداركاتو كمېسـيون نوبتي غونډه د روان لمريز كال د ميـزان مياشـتې پــه دوهمــه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره ســم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو.

د ملي تداركاتو كمېسيون يادې غونډې ته ۲۸ پروژې د بحث لپاره وړاندې شــوې وې چې له جملې يــې د ۲۵ پروژو قراردادونــه منظور، د يــوې لغــوه او د دوو هغــوو د قراردادونو د بيا ارزونې سپارښتنه وشوه. منظور شوې پروژې د رياست الوزراء د ســاتنې لوی رياست، د ملي دفاع، لوړو زده کړو، ټولګټو او د کليو بیارغونې او پراختيا وزارتونو، افغــان ملي بانک او كابل ښــاروالۍ اړونــد دي، چې ټوليز ارزښــت يې شاوخوا شـــپږ ميلياردو افغانيو ته رسېږي.

د غونــډې په پای کې د منظور شـــوو پروژو له جملې يــې د ځينو پــروژو اړوند ســكټوري وزارتونو او ادارو ته لازمي سپارښــتنې وشــوې څو په راتلونکي کې په ټاکلي وخت خپلې پروژې د بحث او منظورۍ لپاره ملي تداركاتو كمېسيون ته راولېـږي او په دغه برخه کې ټــول تداركاتي پړاوونه ترسره کړي.





## نوي كاري فرصتونه؛
## ملي تداركاتو كمېسيون د شپږ ميليارده افغانيو په ارزښت ۲۵ پروژې منظورې كړې

ليكوال: امان‌الله حنيفي

د ملي تداركاتو كمېسيون په هېواد کې د شفافيت تامينول، مؤثر خدمتونـو وړاندې كول، تداركاتي سـتونزو ته د حـل لارو موندل او تـداركاتي چارو فعاليت او تنظيـم ده، چې مشري يې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند كوي.

د ملي تداركاتو كمېسـيون له پيل تر اوسـه پورې لسـگونه بېلابېلـې پـروژې د هېـواد پـه مختلفو ولايتونـو کې منظورې كړې او كارونه يې عملاً پيل شوي، چې اټكلي ارزښت يې شاوخوا ۱۰ ميلياردو افغانيو ته رسـېږي. د ملي تداركاتو كمېسـيون په وروسـتۍ نوبتـي غونډه کې پــه کندهـار، تخار، ارزګان، هــرات، ننګرهـار، فاريـاب، خوسـت، جوزجان، بدخشــان، پــروان، كابـل، بادغيس او كاپيسا ولايتونو کې د شپږ ميليارده افغانيو په

ارزښت ۲۵ مختلفې پروژې منظورې کړې، چې په نږدې راتلونکې کې به یې عملي کارونه پیل شي.

له یادو منظورو شوو پروژو یوه هم د افغان ملي بانک د هستوګنیزو کورونو او سوداګریزو مارکېټونو جوړولو پروژه ده، چې د کابل ښار په دریمه ناحیه کې دهمزنګ څلورلارې سره موقعیت لري. دغه ساختماني پروژه دوه فازونه لري چې د لومړي فاز چارې یې نږدې په بشپړېدو دي. تازه یې د ملي تدارکاتو کمېسیون د دوهم فاز د جوړېدو چارو د پیل منظوري هم ورکړه. د افغان ملي بانک یاده ساختماني پروژه ۱۳ پوړه لوړېږي چې لس پوړونه یې د هستوګنیزو کورونو لپاره ځانګړې شوي او په لومړیو دریو پوړونو کې یې بیا سوداګریز مارکېټونه ابادېږي. د دغه پروژې په دوهم فاز یو میلیارد او ۲۷ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د جوړېدو چارې به یې ۳ کاله وخت ونیسي. په دغه پروژه کې به په مستقیم او غیر مستقیم ډول زرګونو هېوادوالو ته کار زمینه برابره شي او پر دې سربېره به یې په ساختمان کې له خپلو کورنیو توکو هم استفاده وشي. له خپلو کورنیو ساختماني توکو استفاده خودکفایی ته د رسېدو په برخه کې یو مهم او بنسټیز کار دی چې له مخې به یې د حکومت خزانې ته په میلیونونو افغانۍ عواید جمع شي.

په یادو پروژو کې یوه هم د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت اړوند د بادغیس په مرکز قلعه نو ښار کې د څښاک اوبو رسونې پروژه ده. دغه پروژه د افغانستان اسلامي امارت په مالي ملاتړ د ۳۲۶ میلیونو افغانیو په ارزښت پلي کېږي، چې له مخې به یې لسګونو زرو هېوادوالو ته د څښاک اوبه ورسیږي. له دې مخکې په قلعه نو ښار کې خلک د اوبو کمبود له جدي ستونزې سره مخ وو. په دغه پروژه کې هم سلګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابرېږي.



د یادو ۲۵ پروژو له جملې یې یوه هم د کندهار- ارزګان د ۱۳ کیلومتره سړک جوړولو پروژه ده چې عملاً یې کارونه پیل شوي او شاوخوا ۵۰۴ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي. په دغه پروژه کې په سلګونو ماشینرۍ او خلکو ته د کار زمینه برابره شوي، چې په بشپړېدو سره به یې د ارزګان ولایت اوسېدونکو ته د ژوند ډېرې اسانتیاوې برابرې شي. د تخار ولایت له فرخار څخه تر ورسج پورې د ۱۵ کیلومتره سړک جوړول بله هغه پروژه ده چې د ټولګټو وزارت له لوري د ۴۹۲ میلیونو افغانیو په ارزښت پلي کېږي. په دغه پروژه کې هم په سلګونو هېوادوالو او په لسګونو ماشینرۍ ته د کار زمینه برابره شوې ده. د کندهار ولایت له معروف تر ارغستان ولسوالۍ پورې د ۸۰ کیلومتره سړک پروژه هم د دغو منظور شوو پروژو له جملې ده چې ټولټال پرې ۱,۷ میلیارده افغانۍ لګښت راځي. د یادولو وړ ده چې په دغه پروژه کې هم په سلګونو هېوادوالو او همدا راز یو زیات شمېر ماشینرۍ ته د کار زمینه برابرېږي.

همدې ته ورته پاتې پروژې هم هره یوه د سلګونو میلیونو افغانیو په لګښت سره په بېلا بېلو برخو کې تطبیق کېږي، چې د جوړولو پر مهال به یې زرګونو هېوادوالو ته کار زمینه برابرېږي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې په هېواد کې د بېکارۍ کچه راټیټه کړي او خپله هغه ځوانه طبقه افغانان چې په قاچاقي لارو نورو هېوادونو ته د کار کولو په موخه ځي، د هغوی مخنیوی وکړي او په کور دننه ورته د کار او حلالې روزۍ زمینه برابره کړي. د یادولو وړ ده چې یادې ۲۵ پروژې د اسلامي امارت په مالي ملاتړ پلي کېږي، چې د زېربناوو رغولو په برخه کې مهم رول لوبوي.

# مروری بر راهکار های مهم ۱.۱ جهت حمایت از تولیدات داخلی

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

ضرورت حمایت از تولید داخلی برای رشد و شکوفایی یک جامعه از هیچکس پوشیده نیست. چرا که تولیدکننده‌گان داخلی همواره با چالش‌ها و مشکلات مختلفی رو به رو هستند که خیلی از مشکلات می‌تواند به توقف تولید بسیاری از این واحدهای صنعتی منجر شود. به همین دلیل نیز بحث حمایت از تولید داخلی همواره مطرح می‌شود. البته طی سال‌های گذشته دولت‌ها چندان توجه به این بخش نداشته اند و تنها به شکل نسبی روش های مختلفی از جمله حمایت مالی که از سوی کشور های کمک کننده به تولیدکننده گان داخلی صورت می گرفت آن هم در اثر فساد مفاد آن کم رنگ بود. اما به طور قاطع صرف حمایت مالی نمی‌تواند به تنهایی به حفظ و توسعه کسب و کار های کوچک و متوسط کمک کند و باید به بحث حمایت از تولیدات داخلی نیز به شکل هدفمندی پرداخته شود. چرا که اگر به شکل لازم این حمایت صورت گیرد، در نهایت می‌توان در زمینه‌های مختلفی از جمله ایجاد و تداوم اشتغال‌زایی جوانان، کار آفرینی و استفاده از نوآوری در صنایع، جلوگیری از فساد

اقتصادی و بسیاری از موارد دیگر عملکرد موفقیت آمیزی را داشت.

مسئله اقتصاد و تفکر علمی پیرامون آن باید در اولویت برنامه های حکومت ها قرار داشته باشد. با توجه به این که دغدغه پیشرفت و رفتن به سوی توسعه، یکی از اهداف اساسی جوامع کنونی است، از اینرو حمایت از تولید، اعتدال در مصرف و شکوفایی اقتصاد کشور، بیش از پیش احساس می گردد. حمایت از تولیدات ملی اثرات مثبت متعددی در جامعه دارد که به رشد اقتصادی، اشتغال زایی، رفع مشکل بیکاری، افزایش عواید، شکوفایی استعدادهای داخلی، رشد تجارت بین المللی، پیشرفت صنایع و فابریکه ها و بسیاری از نتایج مفید اجتماعی و اقتصادی که در نهایت به توسعه پایدار و طولانی‌مدت منجر می گردد، را به ارمغان میآورد. زیرا یکی از لوازم توسعه پایدار رشد تولید داخلی، حمایت از آن و تبدیل آن به محصولات با کیفیت جهت مصارف داخلی است. بناً جهت روشن شدن بیشتر این موضوع در نوشته حاضر به تولیدات ملی کشور، اتخاذ راهکار های جهت حمایت از تولیدات و محصولات و اثرات مثبت ناشی از حمایت تولیدات داخلی، اهمیت آن در رشد اقتصادی نظر افگنده شده است.

## تولیدات و محصولات عمدهٔ داخلی

تردیدی نیست که مسئله اقتصاد و تفکر علمی پیرامون آن باید در اولویت برنامه های حکومت ها قرار داشته باشد. با توجه به این موضوع مهم پیشرفت و رفتن به سوی توسعه، یکی از اهداف بنیادی جوامع امروزی می باشد، تولیدات داخلی یا ملی کشور که بیشتر ارتباط به سکتور های زراعت می گیرد، در رشد، توسعه و ثبات اقتصادی کشور ما از اهمیت بسزای برخوردار می باشد. چنانچه سکتور زراعت یکی از بخش های کلیدی برای رشد و توسعه اقتصادی بوده و یکی از اساسی ترین منبع عواید در کشور به حساب میرود. زیرا یک بر چهارم حصهٔ کل تولیدات ناخالص داخلی را تشکیل و اضافه تر از ۵۰ فیصد مردم کشور در این بخش اشتغال دارند. زراعت در اقتصاد افغانستان اهمیت بسزای دارد. این سکتور یکی از توانا ترین بخش های اقتصاد کشور و تأمین کنندهٔ اصلی معیشت یا امرار حیات مردم می باشد. همچنان بخش صنعت سهم قابل توجه و ظرفیت‌های بسیار بالایی در اقتصاد کشور دارد، اصلی‌ترین بخش اقتصاد برای دستیابی به رشد پویا و ارتقای شاخص‌های اقتصادی است، زیرا این بخش در زنجیره اقتصادی کشور زمینه ساز دانسته می‌شود. رشد و رونق در این بخش سایر بخش‌ها را توسعه می بخشد. بناً تولیدات عمدهٔ ملی



و صادراتی افغانستان در بخش زراعتی که در بازار های داخلی و بین المللی از شهرت خاصی برخوردار است و در رشد و توسعه اقتصادی ما دارای ارزش زیادی است عبارت اند از گندم للمی که سهم بارز در تولید غله دارد و از جمله محصولات عمده و اساسی می باشد که اکثریت مصارف غلات را در افغانستان تشکیل می‌دهد. میوه های تازه به شمول خربوزه، تربوز، زردآلو، انار، سیب و انگور برای مصارف داخلی و هم برای صادرات تولید می گردد. صدور میوه جات خشک و مغزیات مخصوصاً زردآلو، بادام، پسته، جلغوزه هنوز هم یکی از منابع مهم صادراتی افغانستان می‌باشد. همچنان زیتون، هینگ، زعفران، از جمله اقلامی تولید ملی اند که در بازار های خارجی از شهرت خوبی برخوردار اند. روی همرفته لبنیات هم یکی از عمده ترین تولیداتی کشور ما بوده که در داخل کشور از آن استفاده به عمل میآید. تولیدات داخلی کشور ما در سکتور صنعت شامل مواد ساختمانی، مواد غذایی، صنایع پلاستیک، لبنیات و نوشیدنی‌ها است. بر اساس آمار های ارایه شده، تولیدات فابریکه های داخلی در بخش تولید آب معدنی، صنایع پلاستیک و برخی اقلام ساختمانی به حدی رسیده که این کشور را از واردات اجناس مشابه خارجی بی‌نیاز کرده است. صنایع دستی افغانستان که شامل بربافنده‌گی، نساجی، معماری، نقاشی، کنده‌کاری، حکاکی، نجاری، فلزکاری، سرامیک سازی، گنبدسازی، شیشه سازی، بوت دوزی، فلزکاری، عطاری، ادویه سازی و غیره می‌باشد. بافت و تولید قالین، گلیم کشور ما در جهان شهرت بی نظیری دارد، که این همه و همه در رشد اقتصادی کشور حایز اهمیت بوده و می توان به اتکای آن به رشد و توسعه اقتصادی کشور امیدوار بود.

## امارت اسلامی و راهکار جهت رشد تولیدات ملی

برای رشد اقتصادی افغانستان باید بر محصولات و صنایع داخلی تکیه داشت. از این طریق دولت ها و حکومت های در حال انکشاف باید زمینه های رشد تولید داخلی و محصولات ملی را بالا ببرند. تولیدات ملی زمانی در یک کشور بلند رفته و به رشد می رسد که نه تنها توسط قوانین و مقررات داخلی مورد حمایت و تشویق قرار بگیرند، بلکه از لحاظ مصرفی و فرهنگی در جامعه تحت حمایت واقع شوند. برای اینکه محصولات و اقلام تولیدی در کشور بتواند با محصولات وارداتی در کشور رقابت کند، ضمن آنکه از کیفیت خوب برخوردار باشد، باید توسط ابزار ها و شیوه های قانونی قیمت آن نسبت به اجناس وارداتی بالمثل به کمترین قیمت ممکن برای مشتریان عرضه گردد. یکی از وسایل و ابزار های بسیار مهم جهت نیل به هدف مذکور وضع تعرفه های گمرکی مناسب است. با تعیین تعرفه های گمرکی مناسب می توان از تولیدات داخلی حمایت

کرد تا آنها در برابر محصولات و اقلام وارداتی از پشتوانه اقتصادی برخوردار گردد. تعرفه های گمرکی مناسب می تواند ورود اجناس و محصولات را کنترول و تنظیم نماید. نتایج حاصله از وضع تعرفه های گمرکی مناسب و متناسب با اموال و تولیدات وارداتی، حمایت از تولیدات ملی است که این مسئله سبب ایجاد ثبات و پایداری مالی شده و از فرار سرمایه از کشور جلوگیری می کند. علاوه از آن حمایت از تولیدات و محصولات داخلی یا ملی، کیفیت و ستندرد های محصولات را افزایش داده باعث رفع مشکل بیکاری و کاریابی در کشور می گردد. با بالا رفتن کیفیت محصولات، اعتماد مردم به اجناس داخلی افزایش یافته و کشور می تواند گام های بزرگی را در راستای خود کفایی اقتصادی بردارد.

امارت اسلامی افغانستان با توجه به حقایق و معیار های سازندهٔ علمی بالا در کنار سایر مسایل اقتصادی راهکار های را جهت حمایت از تولیدات داخلی نیز در صدر برنامه های کاری خود قرار داده و همواره تلاش نموده تا از این رهگذر نیز به رشد و بالنده گی اقتصادی متوصل گردد و از مزایای آن به نفع کشور و ملت استفاده ببرد، چنانچه امارت اسلامی ضمن مساعدت نمودن جو مناسب امنیتی که یکی از عمده ترین مسایل برای فراهم سازی زمینه کار و پیکار در همه عرصه ها است به وجود آورده، همچنان از میان برداشتن فساد اداری، خود سری ها، اختلاس، رشوه و سایر بی نظمی های که در اداره سابق به یک فرهنگ مبدل گشته بود، محو گردیده و توجهی بیشتری به مسایل اهم در همه ابعاد خصوصاً مسایل اقتصادی داشته و جهت حمایت از محصولات زراعتی فعالیت های چشمگیری را به منصه اجرا گذاشته و می گذارد. چنانچه به هدف حمایت از تولیدات ملی به ده ها نمایشگاه های زراعتی و صنعتی را در داخل و خارج از کشور براه انداخته و هدف آن این بوده تا در قدم اول محصولات ملی افغانستان به نمایش گذاشته شود و از این طریق مردم در داخل کشور با محصولات افغانی آشنا شوند و از جانب دیگر در چنین نمایشگاه ها در بخش زراعت ماشین های



جدید و عصری، ادویه های زراعتی و سایر همچو موارد به نمایش گذاشته می شود که در عرصه سکتور زراعت از آن استفاده به عمل میآید، که این مسئله به نحوی از انحاء بالای تولیدات زراعتی و صنعتی کشور تأثیرات بسزای گذاشته و سبب ازدیاد محصولات می شود و از جانب دیگر تدویر نمایشگاه در داخل و خارج کشور معرفی تولیدات کشور به سطح ملی و بین المللی بوده و از این طریق مارکیت خوبی برای این تولیدات فراهم می گردد که این خود در فروش و صادرات تولیدات ملی یک کشور حایز اهمیت است و باعث تولید بیشتر گردیده و با افزایش تولیدات رشد و توسعه اقتصادی به گونهای درست رونما می گردد. همچنان به منظور حمایت و سرعت بخشیدن امور فابریکه ها و پارک های صنعتی به تأمین برق دوامدار مبادرت ورزیده است. همچنان به هدف حمایت از متشبثین کوچک در سال ۱۴۰۲ خورشیدی نورم ثابت مالیه اصناف را از یک اعشاریه پنج به صفر اعشاره پنج فیصد کاهش داده است، که این مسئله نیز به شکل از اشکال در این روند کارگر واقع می گردد. روی همرفته جلسهٔ فوق العاده به منظور حمایت از صنعت و صنعتکاران به ریاست مقام معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء به عضویت وزارت های مالیه، امور داخله، صنعت و تجارت و اقتصاد، ریاست عمومی استخبارات و سکتور خصوصی در قصر مرمرین تدویر گردید. در این نشست تصمیم گرفته شد تا اتاق صنعت و معدن تولیدات داخلی را از طریق مکتوب رسمی به کمیتهٔ تعرفه معرفی نماید. ریاست عمومی استخبارات، در عضویت با اداره های غذا و ادویه و ستندرد تولیدات داخلی معرفی شده به کمیته تعرفه را بعد از تثبیت کیفیت، کمیت و قیمت به اندازه ضرورت، تعرفه را بر این اموال وارداتی بلند ببرد و گزارش خود را به معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ارایه دارد. به همین شکل در جلسه فیصله شد که مطابق مصوبه شماره ۱۹ام مورخ ۱۴۴۴/۶/۹ جلسه کابینه امارت اسلامی افغانستان تمامی اداره های امارتی به هدف حمایت از تولیدات و محصولات داخلی در خریدرای ها و پروسه های تدارکاتی، تولیدات و محصولات داخلی را اولویت دهند، اگرچه کیفیت آن نسبت به تولیدات و محصولات خارجی از ده تا پانزده فیصد کمتر هم باشد. در این نشست اداره های امارتی مکلف گردیدند تا تمامی لیست های تولیدات و محصولات داخلی را با خود داشته باشند و بر اساس این لیست ها در موقع خریداری و مسایل تدارکاتی کوتیشن اخذ نمایند. در این جلسه همچنان فیصله شد که جهت رسیده گی به مشکلات امنیتی صنعتکاران و سرمایه گذاران و به منظور ایجاد هماهنگی مؤثر، وزارت های امور داخله، مالیه، صنعت و تجارت، ریاست عمومی استخبارات و اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان و همچنان اتاق صنعت و معدن نماینده گان با صلاحیت خود را در ظرف سه روز به معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء معرفی نمایند.

همچنان به وزارت صنعت و تجارت وظیفه سپرده شد تا در مورد نام های تجارتی، مارک ها و برند ها جهت جلو گیری از جعل و تزویر در آنها اسناد و پیشنهادات را به معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء جهت تصمیم



گیری نهایی بفرستند. در پایان نشست به ریاست وزارت صنعت و تجارت به کمیتۀ تعرفه وظیفه سپرده شد تا به عضویت ریاست عمومی استخبارات در حصۀ اجرای انوایس ها میان اتاق های تجارت و سرمایه گذاری و صنعت و معدن مشکلات موجوده را به شکل همه جانبه ارزیابی نماید و همراه با نظریات خویش به معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ارسال دارد. بناً از حقایقی که در بالا گفته شد به وضوح هویداست که امارت اسلامی تعهد جدی برای رشد و توسعه اقتصادی مطابق معیاری های عملی پذیرفته شده دارد، چنانچه به هدف حمایت از متشبثین کوچک به کاهش مالیه مبادرت ورزیده، براه اندازی نمایشگاه ها جهت معرفی و بازاریابی محصولات داخلی، اتخاذ تدابیر امنیتی برای صنعتکاران، فراهم آوری برق دوامدار برای فابریکه های تولیدی، بلند بردن تعرفه بر کالای های وارداتی و کاهش آن بر تولیدات داخلی، ایجاد کمیتۀ مشترک جهت مدیریت سالم در این بخش اعم از کیفیت، کمیت و قیمت مواد تولیدی، ترویج به مصرف رسانیدن محصولات داخلی کشور در ادارات امارتی و ... از مسایلی است که ریشه علمی و تخصصی مطابق معیار های قبول شده در حصه رشد و توسعه اقتصادی دارد. به همین شکل امارت اسلامی در حصه رفع مشکلات و چالش های که سد راهی تولیدات ملی قرار می گیرد به اسرع وقت اقدام نموده است تا تولیدات ملی روال عادی داشته باشد.



## نتیجه گیری

از مفاهیم که در بالا جسته جسته گفته شد برمیاید، که حمایت از تولیدات ملی و آموزش افراد با توجه به رعایت مصرف، اثرات مثبت متعددی در جامعه دارد که به رشد اقتصادی، اشتغال زایی، رفع مشکل بیکاری، افزایش عواید، شکوفایی استعداد های داخلی، رشد تجارت بین المللی، پیشرفت صنایع و فابریکه ها و بسیاری از نتایج مفید اجتماعی و اقتصادی که در نهایت به توسعه پایدار و طولانی مدت منجر می‌گردد، را به ارمغان میآورد. با در نظرداشت این مهم امارت اسلامی افغانستان با به راه اندازی نمایشگاه های محصولات زراعتی و صنعتی در داخل و خارج کشور به هدف حمایت از تولیدات داخلی مبادرت ورزیده، که هدف آن همانا معرفی محصولات ملی در داخل و خارج از کشور بوده تا تولیدات کشور به معرفی گرفته شود و زمینه بازاریابی برای آن فراهم گردد. همچنان امارت اسلامی جهت حمایت از تولیدات ملی برای کارخانه ها و پارک های صنعتی به تأمین برق دوامدار مبادرت ورزیده تا باشد این روند وضعیت عادی داشته باشد و به تولیدات بیافزاید. کاهش مالیه اصناف از ۱,۵ به ۰,۵ مسئله دیگری جهت حمایت از تولیدات داخلی یا ملی است که انجام شده است. همچنان اتخاذ تدابیر امنیتی از صنعتکاران، ایجاد کمیتۀ مشترک جهت مدیریت سالم در این بخش اعم از کیفیت، کمیت و قیمت مواد تولیدی، ترویج به مصرف رساندن محصولات داخلی کشور در ادارات امارتی و ... امور ضروری جهت حمایت از این بخش بوده که سبب رشد و توسعه اقتصادی گردیده و ما را به آینده امیدوار می سازد. باید بدانیم که کشور ما با حرکت معمولی به جایی نخواهد رسید جهش لازم است، حرکت مضاعف لازم است؛ و زمینه این حرکت مضاعف خوشبختانه در کشور وجود دارد. عناصر بسیار خوب مبتکر، جوان های آماده به کار، جوان های تشنه کار در کشور وجود دارند، می توانیم از وجود این ها استفاده کنیم و تولید را به معنای واقعی کلمه جهش بدهیم، و ازدیاد تولید خواهد توانست اقتصاد کشور را احیا کند. اشخاص و شخصیت های حکمی که دست اندرکار در بخش اقتصاد کشور هستند به همین شکل عمل کنند، ان‌شاءالله با تعهدی که در راستای آبادانی کشور دارند ادامه خواهد یافت به اساس یک تغییر محسوسی در زنده گی مردم به وجود می آید و آن وقت است که مشکل بزرگ معیشت مردم رفع و فراتر از آن به سوی خود کفایی نزدیک خواهیم شد.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۷٦.۷۵؋ | ۷٦.۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲٦۱؋ | ۲٦۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۵۸؋ | ۱,٦۰؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۸۱.۸۰؋ | ۰ ۸۲.۰۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۱,۲۰؋ | ۱,۳۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۹۸۰؋ | ۱۰۲۰؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۱۰۲,۸۰؋ | ۱۰۳,۰۰؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۲۳,۵۵؋ | ۲۳,٦۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲٤,۳۰؋ | ۲٤,٤۰؋ |
| ۱ | چيني ين | ۱٦,۵۰؋ | ۱٦,٦۰؋ |